| | | |
|---|---|---|
| دافغانستان اسلامـي جمهوری دولت | | دولت جمهوری اسلامی افغانستان |
| د ټــاکنــوخپلـــواک کمیسیـــون | | کمیسیون مســـــــــتقل انتخابات |

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Independent Election Commission**

---

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون د داخلي دندو لایحه

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

حقوقي مبنی

لومړۍ ماده:

دا لایحه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۵ مې مادې د ۳ مې فقرې او ۱۲، ۱۴، ۱۵، ۱۲ او ۱۷ مادو د حکم په اساس د دې قانون د مادو د تطبیق او تعمیل او د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رییس، مرستیال، منشي، د کمیسیون د غړو او د دارالانشا رییس د دندو، صلاحیتونو او مسوولیتونو د حدودو د ټاکلو لپاره وضع شوې ده.

په دې لایحه کې دغه اصطلاحات لاندینۍ ماناوې رسوي:

لنډ نوم

دویمه ماده:

(۱) د ټاکنو خپلواک کمیسیون له دې وروسته په دې لایحه کې د کمیسیون په نوم یاد ېږي.

(۲) د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشا له دې وروسته په دې لایحه کې دارالانشا نومېږي.

(۳) د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون له دې وروسته په دې لایحه کې د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون نومېږي.

موخې

دریمه ماده:

د کمیسیون د داخلي دندو لایحه لاندې موخو ته د رسېدو لپاره وضع شوې ده:

(۱) د کمیسیون د غړو د صلاحیتونو اعمال چې د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون کې راغلي دي.

(۲)د کمیسیون د چارو د تنظیم لپاره د اغېزناک او ګټور میکانیزم رامنځته کول.

(۳)د کمیسیون جوړښت او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون ته په پام د صلاحیتونو د قانوني مراتبو د سلسلې تطبیق او رعایتول.

(۴)د ریس، مرستیال، منشي، د کمیسیون د غړو او دارالانشا ریس د دندو تشخیص او تعریف.

دویم څپرکی

د ریس، مرستیال، منشي، د کمیسیون د غړو او دارالانشا ریس دندې او صلاحیتونه

<u>د کمیسیون د ریس دندې او واکونه</u>

څلورمه ماده:

(۱)د کمیسیون د ریس دندې او صلاحیتونه په لاندې ډول دي:

(۲)د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۵ مادې په ۱ فقره کې راغلې دندې او صلاحیتونه.

(۳)د کمیسیون له تصویب وروسته له کورنیو او بهرنیو حکمي شخصیتونو سره د هوکړه لیک (موافقت نامه)لاسلیک کول.

(۴)د دارالانشا ریس ته د مالي صلاحیتونو ټاکل او سپارل

(۵)له کمیسیون څخه دباندې صادرېدونکو مکتوبونو لاسلیک.

(۶)د کمیسیون د منسوبینو شکایتونه څېړل.

(۷)د کمیسیون له غړو سره له شریکولو وروسته د کاري پلان او د (AWP)د پروژې د سند لاسلیک

(۸) د NPD پروژې د مسوول ټاکل.

(۹)د تدارکاتو د قانون مطابق تړونونه کول.

(۱۰)د کمیسیون د ریس او مرستیال په غیاب کې د کمیسیون یو غړي ته د صلاحیتونو سپارل.

<u>د کمیسیون د مرستیال دندې او صلاحیتونه</u>

پنځمه ماده:

(۱)د کمیسیون د ریس په غیاب کې د غونډو ریاست.

(۲)د کمیسیون د ریس له لوري د ورسپارل شویو دندو ترسره کول.

(۳)د کمیسیون د ریس په غیاب کې د هغه د دندو او صلاحیتونو ترسره کول.

<u>د کمیسیون د منشي دندې او صلاحیتونه</u>

شپږمه ماده:

(۱)د کمیسیون د غونډو د اجنډا ترتیب

(۲)د کمیسیون د غونډې د اجنډا لوستل

(۳)د غونډې راپور لیکل

(۴)د کمیسیون غړو او دارالانشا ریاست ته د کمیسیون د اجرایوي پرېکړو رسول.

(۵)د کمیسیون د ویاند د فعالیتونو رهبري

(۶)د کمیسیون د ریس له لوري د ټولو ورسپارل شویو دندو ترسره کول.

د کمیسیون دغړو دندې او صلاحیتونه

اومه ماده:

(۱)د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۵ مادې دویمه فقره، ۱۴ ماده او د ۱۲ مې مادې دویمه فقره کې راغلې دندې او صلاحیتونه.

(۲)د ترلاسه شوو راپورونو په هکله عملي تصمیم نیول.

(۳)د بهرنیو سفرونو تصویب

(۴)د کمیسیون د چارو د تنظیم لپاره د ګډور میکانیزم د رامنځته کولو په موخه د لاندینیو څارونکو ګروپونو تشکیل:

الف: د عملیاتي برخې د څارنې ګروپ

ب: د مالي او اداري برخې د څارنې ګروپ

(۵) د پورته یادو شویو ګروپونو غړي هر دوه میاشتې وروسته بدلېږي.

(۶)د ولایتي دفترونو او زونونو د فعالیتونو څارنه

(۷)د لایحو، طرزالعملونو او دستورالعملونو تصویب

(۸)د کمیسیون د موقتو کارکوونکو د استخدام طرزالعمل تصویب

(۹)د AWP پروژې د کلني کاري پلان د تطبیق څارنه.

د دارالانشا د ریس دندې او صلاحیتونه

اتمه ماده:

(۱)د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون په ۱۲ او ۱۷ ماده کې راغلې دندې او صلاحیتونه.

(۲)کمیسیون ته د تاکنیزو عملیاتو د پلان ترتیب او وړاندیز.

(۳)د اداري، مدیریتي او ټاکنیزو پلانونو تطبیق

(۴)د ټاکنیزې بودیجې تطبیق

(۵)د قانون دحکمونو او د کمیسیون د تصویب شویو طرزالعملونو له مخې د دندو تطبیق.

(۶)کمیسیون ته د ټاکنیز تقویم ترتیب او وړاندیز
(۷)د کمیسیون غونډو ته د ټاکنیزو ، اداري، مالي او تخنیکي اجراتو راپور ورکول.
(۸)کمیسیون ته د تشکیلاتي بدلونونو طرحه او وړاندیز
(۹)د ټاکنو پروسې د څارنې بهیر په موخه د کمیسیون غړو ته پر وخت د خدماتي او لوژستیکي اسانتیاو برابرول
(۱۰)د پایلو په ملي مرکز کې د ټاکنو د ترلاسه شویو پایلو ترتیب، تنظیم او جمع بندي.
(۱۱)په ټاکنیزو چارو کې له ټولو دولتي او غیر دولتي بنسټونو سره مرسته.
(۱۲)د دارالانشا د سکتوري ریاستونو د فعالیتونو اداره او څارنه.
(۱۳)کمیسیون ته د رای ورکولو د نوم ثبتونې د مرکزونو او رای ورکولو او رای شمېرلو د محلونو تنظیم او وړاندیز.
(۱۴)د هېواد په کچه د مدني معلوماتو او عامه پوهاوي د کمپاینونو تطبیق.

## دریم څپرکی
## ځانګړې کمېټه

<u>د ځانګړې کمېټې رامنځته کول</u>

نهمه ماده:

ځانګړې کمېټه د ریس د تصمیم او یا د غړو د یو ثلث په وړاندیز رامنځته کېږي.

## څلورم څپرکی
## د کمیسیون د غونډو اجنډا او جوړول

<u>د کمیسیون د غونډو اجنډا</u>

لسمه ماده:

(۱)د کمیسیون د غونډو په اجنډا کې، د کمیسیون د ریس د تصمیم پر اساس یا د کمیسون د یو ثلث غړو په وړاندیز موضوعات شاملېږي.
(۲)دارالانشا چې کوم موضوعات پیشنهادوي، نو د دې مادې له لومړۍ فقرې سره سم په اجنډا کې شاملېږي.
(۳)د غونډو په ورځ بیړني موضوعات د کمیسیون د اکثرو غړو د رأیو پر اساس په اجنډا کې شاملېږي.

<u>د کمیسیون غونډې</u>

یولسمه ماده:

(۱)د غونډو جوړولو څخه دوه ورځې وړاندې د کمیسیون د غونډو د اجنډا وېش او تکثیر.

(۲) د کمیسیون غونډې د ریس په تصمیم یا د یو ثلث غړو په وړاندیز جوړېدلی شي.
(۳) د غونډو جوړولو نصاب دوه ثلثه غړي دي او تصمیم د حاضرو غړو د اکثریت په رأیو نیول کېږي او د رأیو د برابروالي په صورت کې د غونډې د ریس رایه ټاکونکې ده.
(۴) دنوماندانو د اسنادو او د رأیو اچونې صندوقونو کې د تقلب په اړه د مدلل شکایتونو د څېړنې، رای شمېرلو او د پایلو د تصدیق او اعلان غونډې علني دي. د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او رسنیو استازي، ملي او بین المللي څارونکي او کتونکي په کې ګډون کولی شي.
(۵) د کمیسیون غونډې په منظمه توګه لږ تر لږه په اونۍ کې یو ځل جوړېږي.
(۲) فوق العاده غونډې د اړتیا په صورت کې، د کمیسیون د ریس په تصمیم او یا د کمیسیون د یو ثلث غړو په وړاندیز جوړېږي.

## پنځم څپرکی
## عمومیات

<u>تعدیلات</u>

دولسمه ماده:

د دې لایحې په موادو کې تعدیل د کمیسیون د دوه ثلثه غړو په وړاندیز راځي.

<u>انفاذ</u>

دیارلسمه ماده:

دا لایحه د تصویب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.